کاندید اکادمیسین محمد اعظم سیستانی
سویدن/گوتنبرګ ښار- ۲۰۲۳/۹/۳۰

# دافغانستان دبقا محورکتاب باندی یوه څلنده نظر

په دی وروستیو کې د وزیرمحمدګل خان مومندپه باره کې یوکتاب مې مطالعه کړه چې دښاغلی انجنیر زلمی نصرت لخوا ترتیب اوتنظیم شوی دی او په دیرښه قطع اوصحافت او روان ادبیاتو سره په ۲۰۸ صفحوکی له چاپه وتلی دی.

کتاب د وزیرمحمدګل خان مومند پرشیرو خصوصی مکتوبونوباندی تبصری کوی چې دصدراعظم شاه محمودخان او اعلیحضرت محمدظاهرشاه په نامه په پښتوژبه لیکل شوی دی. دا مکتوبونه ښایي دپاچا او دصدراعظم تر ملاحظی تیری سوی وی خووزیرمحمدګل خان داحتیاط له مخی یویو کاپي ځان ته هم ساتلی وو او بیا په یوه صندوقچه کې د خیل قلاع په یودیوال کې ښخ کړی ول. کله چې د وزیر ورثه په سمنګان کې هغه کلاپر بل چا خرڅه کړی دی، نوی مالک کله چې دسرای دیوالونه نړوی نابېره یوه صندوقچه د دیوال څخه رالویږی چې دمالک دخوښی سبب ګرزی . مالک دیوګنج په طمع صندوقچه خلاصوی مګردګنج پرځای شپږ مکتوبونه پکښی وینی. خلاصه دا مکتوبونه بالاخره تر انجنیرنصرت پوری رسیږی او ښاغلی نصرت چې یو پوه سیاسی شخصیت اوتکړه لیکوال ،ادیب او تحلیلګر دی دامکتوبونه چې دوزیرمحمدګل خان دافکار اوجهان بینی ښکارندوی دی، ترمطالعی وروسته پرهرمکتوب خپل سیاسی ژوره تبصره ور اضافه کوی او دیوکتاب په بڼه ترتیب اوچاپوی.

ښاغلی نصرت د محمدګل مومند دیاداښتونو څخه داسی نتیجه تر لاسه کوی چې:

«له هغه سره یوه ویره موجود وه، دافغانستان دبقا ویره، دقومونو او ولسونو داختلاف ویره، دافغانانو خاصتاً دپښتنو د بی خبری،غفلت او بی اتفاق ویره، دهغودجنګی خصلت ویره، د تحجر او دهغوی دکلک دینی او قبیلوی او دبنسټیز سنتونو ویره، له بی تعلیمی،له اقتصاد،بازار،فرهنګ او له تجارت څخه دهغوی دلریوالی ویره.هغه ډاریده که دوی همداسی ویده،بی تفاوته او بی خبره پاتی شی،بیابیا به د تورولښکرو اوبهرنیانوښکار شی.خپل یوالی به له لاسه ورکړی او افغنستان به ټوټی ،ټوټی او پرکنډوالو بدل شی.

دمحمدګل خان مومندغږ چا وانوریده، پښتو رسمی شوه.خو د ارګ،او تخت او بخت ژبه نه شوه.دفتراو ادرو ته بی لاره پیدا نکړه،دولت او افغانان خو پریږده، چی حتا د پښتنو ژبه هم نه شوه.مهم او آړین دی چې دپښتنو قبایلی سیمی تریو لوی او پراخ اقتصادی، فرهنګی پوښښ لاندی راوستل شی. داځکه هرڅه چې تر داننه پوری په دی برخه کې په قبایلواوپښتنې سیمو کې ترسره شوی. میکانیکی نمایشی او سر سری وو او دی ،نه بنیادی او پایلی یې معکوسی وی. نور نو لازمه ده چی:دپښتو ژبه ترویج او دهغی زدکړه داساسی قانون مطابق بی له کوم جبر او اکراه او دقوی له استعمال پرته دیو سراسری مکلفیت په توګه ترویج شی.هڅه دی وشی چې پښتو ژبه هم دیوی ژبې په توګه جهانی انترنتی سیستم او دستګاه کې شامله شی.

بله لویه نقیصه او کمی دادی چې پښتو ژبه لا تراوسه هم دمعیارپه برخه کې یولړ ستونزی لری.ځکه نوضروری ده چی پښتوژبه دی هم لکه دنړی دنورو ژبو په څیر دیوستندرد او دیومعیاری ژبې په توګه عامه او دمختلفو لهجو له چوکاته دی بیرون شی.لازم سرایط دی برابر او مهیا شی،دپښتنو ددقیق تاریخ دسپړلو او روښانه کولو او پوهاوی په مقصد دی کمیسیونونه او سیمنارونه جوړ شی.دپښتنو دفرهنګی مشاهیراوادیبانو برجسته کولو لپاره دی مختلف سیمنارونه جوړ شی او دهغوی فلسفی افکار دی مکاتبو کې تدریس شی.

په دی آخروسلوکلونو کې اکثره پوهانو،آدیبانواو عالمانو چې په افغانستان کې سر پورته کړی دی،پښتانه دی. دپښتنو سیاسی او مدنی شعور دلوړاوی لپاره دی دولتونه لازم او عملی تدبیر ونیسی او دهغوی ونډه دی دولت په مختلفو اداری چاروکې تامین کړی.داغوښتنې کوم امتیاز نه دی. د دوی ژوندون په دغه جغرافیایی موقعیت کې چې له دوی څخه یې سترجنګی او متحجره قوت جوړ کړی دی چې مات،ریزمریز او میده شی او مدنی ژوند ته دهغوی دهڅولو یوازنی لاره همداده او دا غوښتنه دنورو قومونو دحق اوسهم تر پښوکولو په مانا نه ده.»(ص205-207)

پدی دول ښاغلی نصرت د محمدګل خان مومند دزړه آرمان او افکار دپښتو د ودی او پښتنو دبقا او ترق په خاطر روښانه کړی دی. زه دښاغلی نصرت ددی زیار او زحمت او پرهر مکتوب باندی دمهموتبصرو او دمنطق سره سم استنتاج کولو په خاطر مبارکی وایم او ددوی دلا بریا په هیله. پای